## يهودي رژيم؛ زهرجن خنجر او د اسلامي خاورو په زړه کې د امريکا نظامي اډه

## (ژباړه)

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۲۵م کال د جنورۍ پر ۴مه، د اکسيوس خبري ويبپاڼې د راپور پر بنسټ اعلان وکړ، چې د يهودو له رژيم سره د ۸ ميلیارده ډالرو په ارزښت د وسلو د پلورلو يو وړانديز شوی تړون شوی دی. په دغه قرارداد کې د توپونو مرمۍ، د جنګي الوتکو او چورلکو مهمات هم شامل دي. سي‌ان‌ان رسنۍ هم د يوه امريکايي چارواکي او يوې باخبرې سرچينې په حواله راپور ورکړی، چې: «د بهرنيو چارو وزارت د جمعې په ورځ د استازو جرګې د بهرنيو چارو کمېټې او د سنا جرګې د بهرنيو اړيکو کمېټې ته د وسلو پلورنې يو غيررسمي اطلاعيه استولې ده.» تر دې وړاندې د بايډن ادارې د تېر کال د اکتوبر په مياشت کې له يهودي رژيم سره تر ۲۰ ميلياردو ډالرو د زياتو وسلو د پلورنې توافق کړی و.

په همدې تړاو د حزب‌التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د يوې اعلامېې په خپرولو سره وويل، چې يهود جنايتکار رژيم په اسلامي خاورو کې د امريکا او د استعماري غرب لپاره يوه پرمختللې نظامي اډه ده. په دغه اعلاميه کې ويل شوي: «امريکا يو ځل بيا ټينګار کوي چې يهودي رژيم يې يوه پرمختللې نظامي اډه ده او هېڅکله به يې له لاسه ور نه کړي. له هغه وخته چې دغه رژيم د امت په زړه کې ځای په ځای شوی، امريکا يې ملاتړ کړی او د هغه دوام يې تضمين کړی دی، ترڅو د لويو او ورکړل شويو دندو د ترسره کولو وړتيا ولري. له همدې امله امريکا د دغه رژيم د مالي تمويل او هغه ته د نويو وژونکو وسلو د برابرولو په برخه کې خپلې هڅې دوامداره ساتلې دي، سره له دې چې ياد رژيم په غزه کې پر خلکو، په ځانګړې توګه پر ماشومانو، ښځو او سپين‌ږيرو، بېلابېل جنايتونه ترسره کړي او لا هم روان دي؛ چې د خلکو کورونه، روغتونونه، ښوونځي او د پناه ځايونه هم پکې شامل دي.»

يادې مطبوعاتي اعلامېې زياته کړې ده چې د بايډن اداره د خپل حکومت د پای په وروستيو ورځو کې د يهودي رژيم په ملاتړ سره دا ښکاره کوي چې امريکا له انسانيت، رحمت او عدالت څخه خورا لرې ده. په دغه اعلاميه کې راغلي دي: «سره له دې چې د بايډن اداره د خپل حکومت د پای په ورځو کې ده، خو بيا هم يې د يهودانو د جنايت او وژنې ماشين په ملاتړ او مالي تمويل کې ډډه نه ده کړې، څو ثابته کړي چې امريکا د انسانيت، رحمت او عدالت څخه تر ټولو لرې دولت دی. د بشر حقونو، ازاديو او ډيموکراسۍ په اړه د امريکا ټول شعارونه او ادعاوې يوازې هغه بتان دي چې د خپلو استعماري موخو لپاره يې جوړ کړي او کله چې يې ګټې وغواړي، پر هغو پښې ږدي او له منځه يې وړي.»

په ياده اعلاميه کې له يهودي رژيم څخه د امريکا د صليبي ملاتړ – چې د فلسطين سپېڅلې خاورې د غصب له وخته تر اوسه يې کوي- په اړه راځي: «له هغه وخته چې يهودانو فلسطين غصب کړ، امريکا د هغوی رژيم ته د پاتې کېدو او ځواکمنېدو ټولې وسيلې برابرې کړې، د شاوخوا اسلامي خاورو پر وړاندې يې ساتنه وکړه او هڅه يې کړې چې د هغوی انځور په ټوله نړۍ کې ښه وښيي او په فلسطين او د هغه شاوخوا کې د يهودانو د ټولو جنايتونو لپاره يې سياسي او نړيوال ملاتړ برابر کړ، چې دغه رژيم د امت په زړه کې يو زهرجن خنجر پاتې شي، د امت د يووالي او پرمختګ مخه ونيسي او د امريکا او غرب لپاره د يوې پرمختللې نظامي اډې په توګه چټک عمل وکړي.»

په اعلامیه کې راغلي چې اسلامي امت باید په دغه حقیقت پوه شي او د غزې د خلکو ملاتړ وکړي او د سپېڅلي فلسطین د بشپړې ازادۍ لپاره ګامونه پورته کړي: «له همدې امله امت باید دغه حقیقت درک کړي او له هغه څخه د غزې د ملاتړ لپاره ګټه واخلي. د غزې د ملاتړ لاره دا نه ده، چې پر هغه نړیوال نظام دې تکیه وشي چې د امریکا تر واک لاندې دی یا پر امریکا فشار راوړل شي، ترڅو د یهودي رژیم پر وړاندې فشار زیات کړي، ځکه د دوی ګټې مشترکې دي او پخپلو کې سره یو دي؛ بلکې امت باید د یو امام تر مشرۍ لاندې د دویم راشده خلافت دولت په لوري حرکت وکړي، چې د امت صفونه سره متحد کړي، د هغوی پوځونه سره یو ځای کړي، ترڅو د امریکا او ټولو کفري او استعماري قدرتونو سپین سترګي پای ته ورسوي او د یهودي رژیم ریښې وباسي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ﴾ [الجاثية: ١٩]

**ژباړه**: «له شک پرته چې ظالمان یو د بل ملګري دي او الله تعالی د متقیانو مرسته کوونکی دی.»

**د الرایه مجلې له ۵۳۰مې ګڼې څخه**

**ژباړن: اسرار تکل**